AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌ولی ۲۰۲۶/۰۵/۰۵

# د ایران، امریکا او اسرایلو جګړه

## (دریمه‌برخه)

د امریکا، اسرائیلو او ایران په تیره څلویښت ورځنۍ جګړه کې چې امریکا او اسرائیلو په ټول قووت او امکاناتو پر ایران خپلو بریدونو ته دوام ورکړ نتیجه دا شوه چې، هغه موخې چې امریکا او اسرائیلو په ایران کې غوښتلې، یوه هم عملي نه شوې او کله چې ټرامپ د جګړې له لارې خپله ناتوني درک کړه، بیا یې د ډپلوماتیکو هلو ځلو لار غوره وګڼله، تر څو که وشي کولای د خبرو اترو او تبلیغاتي فشارونو له لارې خپلې موخې پر ایران عملي کړي.

حقیقت خو دا دی چې د ټرامپ ضدو- نقیض وضعیت او کرکتر او د خبرو اترو میز ته ورتګ هم ایرن او هم ټولو نړیوالو ته شک او تردید را پیدا کړي و، ځکه ټرامپ له یوې خوا د اوربند او خبرو اترو وړاندیز کاوه او له بله پلوه چې د جګړې د شدت، خطر ناکه وسلو حتا د اتومی وسلو د استعمال ګوت څنډنې کولې، نو ځکه د ټرمپ پر خبرو او د هغه له خوا د مذاکراتو د پیل کیدو پر پروسه باور ستونزمن ښکاریده، چې په داسې وضعیت کې د دریم ګړي هېواد یا هېوادونو هلو ځلو ته د اوربند او خبرو اترو د تضمین او منځګړیتوب اړتیا لیدل کیده.

د ټرامپ د دغه جګړه ایز ناکام سیاست او پالیسیو په مقابل کې په امریکا کې دننه تظاهراتو زوروموند، له ایرانه اخوا امریکا کې هم د ټرمپ ادارې دغه اقدام له پراخو نیوکو سره مخ شوی او دې ګام د کانګرېس غړي په دوو ملاتړ او مخالفو ډلو وېشلي دي.

سره له دې چې په کانګرېس کې د ولسمشر ټرمپ دغه اقدام له یوې خوا یو اړخیز او د امریکا د اساسي قانون خلاف عمل بلل شوی، له بلې خوا یې ډیموکراټان سخت په غوسه کړي او د نوموړي د استیضاح غوښتنه یې مطرح کړې ده، همدا ډول د جګړې اقتصادی لګښت انسان وژنې ورځ تر بلې زیاتیدي، د امریکا د یوه پوځي ویاند په وینا، پر ایران د امریکا او اسرائیلو د جګړې پر مهال په اوو هېوادونو کې د ټپي شوو امریکایي سرتیرو شمېر تر ۲۰۰ اوښتی دی.

د امریکا د مرکزي قوماندانۍ (سنټکام) ویاند کپټان ټیم هاکینز داسي وایې:

«د دغو ټپونو ډېری یې سطحی دي چې بیرته خپلو دندو ته ستانه شوي دي، چې ۱۰ تنه نور سخت ټپیان او د کوما په وضعیت کې دي چې دغه پوځیان په بحرین، عراق، اسرائیلو، اردن، کویټ، سعودی عربستان او متحده عربي اماراتو کې ټپیان شوي دی.»

پنټاګون بیا د مارچ تر لسمې پورې د ۱۴۰ امریکایي سرتیرو د مرګ ژوبلې خبر ورکړی وو.

له بله پلوه د ټرمپ ادارې ویلي، ایران سره د جګړې د لومړیو شپږ ورځو لګښت ۱۱ اعشاریه ۳ میلیارد ډالرو ته رسېدلی دی. ورته مهال ایران ادعا کړې، چې د جګړې په ۱۲ ورځو کې یې امریکا ته ۳۰ میلیارده ډالر زیان اړولی دی. له بل لوري د امریکا د استازو جرګې اندېښنه ښودلې، چې ممکن دا لګښتونه تر ۵۰ میلیارد ډالرو واوړي.

دغو پورتنیو ستونزو نه د وتلو له پاره ټرامپ د ډپلوماسۍ او خبرو اترو لار غوره کړه، چې زما په اند بیا هم ترامپ ممکن د دوه موخو له پاره اور بند او د سولې خبرو ته مخه کړي وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ

لومړی دا چي غواړي هغه څه چي یې د جګړې له لارې تر لاسه نه کړل، د سولې د خبرو له لارې یې تر لاسه کړي، دویم دا چي یوه زماني فرصت ته اړتیا لري، تر څو د بیا جګړې د دوام له پاره تیاری تر لاسه کړي. خو دلته اساسي پوښتنه دا ده چي ولې د دغو خبرو اترو منځګړیتوب د پاکستان دولت په غاړه واخیست؟.

زما په اند د ترامپ اداري د ایران په جګړه کي خپل ملي او نړیوال ماهیت او اتبار له لاسه ورکړ، د ترامپ غیر ارادي د لیونتوب او احساساتي پریکړو او تصمیمونو له امله پر هغه د امریکا د ولسونو، نړیوالو او حتا د هغه د متحدینو باور او د اعتماد کچه صفر ته را ټیټه کړی ده.

د امریکا په بیلا بیلو ښارونو کي د ترامپ د جګړه ایزو پالیسیو پر ضد لاریونونه تر سره شول، د امریکا غربي متحدینو د ایران سره په جګړه کي برخه وانه خیسته د ناټو د غړو هېوادو او ترامپ تر منځ هم د دغي جګړې په هکله د نظراختلاف رامنځته شول او بلاخر امریکا او اسرائیل په دغه جګړه کي د خپلو نورو متحدینو د ګډون نه بې برخي پاتې شول.

ولیدل شول چي څوارلس ورځنۍ دوامداره جګړې او په جګړه کي د ایران بر لاسي امریکا دې ته اړویسته تر څو د خبرو له پاره لار هواره کړي، مګر د ترامپ د غیر ارادي کړنو، درواغو، عدم صداقت له امله د نړی ځواکمنو هېوادو د امریکا او ایران تر منځ د اوربند او د سولې د خبرو منځګړیتوب ته علاقمندي ونه ښوده، نو ځکه امریکا خپل لاسپوڅي پاکستان ته دغه ماموریت و سپاره چي د پاکستان په پلازمینه اسلام اباد کي د خبرو اترو دغه مرحله پیل مګر بې نتیجي پای ته ورسیده.

په خبرو کي پر ایران د امریکا د تعزیراتو لرې کول، د ایران د کنګل شوو شتمنیو ازادول، د یورانیمو د غني کولو د پروسي دوام، ایران ته د جګړې د غراماتو ورکول، د هرموز پر تنګي د ایران بشپړ حاکمیت منل، او په منځني ختیځ کي د ایران پر متحدینو د اسرائیلو د حملو درول او سوله تامینول د ایران دغه اساسي او قانوني غوښتني وي چي د دغو غوښتنو یو شمېر ترمپ ته د منلو وړ نه وي، همدا ډول د امریکا ځني غوښتني بیا ایران ته د منلو نه وي، نو ځکه مذاکرت بې نتیجي پای ته ورسیدل.

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ